هاجره حرکت ۲۰۲۲/۰۷/۰۳

# نیم گوتی

یو وه او یو نه و، یو پاچا و چې اولاد یې نه درلود، که څه هم دری ودونه یې کړي و خو یوې ښځې هم اولاد نه و زیږولې او پادشاه د اولاد نه لرلو په غم کې مدام کړیده.
پادشاه به د مني او ژمي په موسم کې د خپلې شانداره ماڼۍ په تالار کې خپلې شاهي غونډې کولې. د پسرلي او دوبې موسم په سهار به د خپلې ماڼۍ مخ ته په سمسور بڼ کې چې د رنګا رنګ ګلانو چپوتري په کې جوړې وې د شنو ونو تر سورې لاندې پر پروت تخت کښیناست، خپل حکومتي کارونه به یې ترسره کړل او کله به هم چې وزیران او نور چارواکي رخصت شو، نو زړه به یې د اولاد نه لرلو له غم او اندیښنې نور هم ډک شو پر تخت به وغزیده او سترګې به یې پټې کړې.
هغه ورځ چې د دوبې موسم لومړنۍ شپې ورځې وې او د پادشاه په بڼ کې میوې هم نوې رسیدلې وې، په دروازه کې یو ملنګ غږ پورته کړ:
اې د لوې دربار خاونده! پر دې ملنګ د خوږ نظر پیرزوینه وکړه، چې پاک رب هم په تا د اولاد لورینه وکړي.
دا غږ سیده د پاچا تر غوږ ورسیده، نیغ پر تخت کښیناست او ژر یې نوکرانو ته امر وکړ:
هله ژر دغه ملنګ تر ما راورسوئ!
د پاچا څارګرو کارکونکو لا دمخه له ملنګ څخه پوښتنې پیل کړې وې، چې په دې شیبه کې د پاچا خاص نوکر یې تر خوا راغې. ملنګ ته یې کړه:
راځه ملنګ بابا! چې د بادشا دربار ته دې جاضر کړم، پادشاه غواړي تا ووینې.
کله چې ملنګ د پادشا خواته ورغې نو پادشاه یې په لیدلو له خپل تخت څخه پورته شو او ملنګ ته یې داسې وویل:
ته زما له درد څخه څه خبر یې؟ ملنګ په زیر زیر پادشاه ته وکتل او په زیرکتیا سره یې وویل:
ملنګان خو د زړونو پادشاهان دي. تاسې د تاج او تخت پادشاهی کوئ خو موږ د خلکو د زړه له حاله خبر یوو.
پادشاه ورته وویل:
د زړه له حاله مې چې خبر یې، نو څه مرسته راسره کولې شې؟
ملنګ کړه:
زه به ستا له خپل بڼ څخه درته داسې درمل درکړم چې پاک رب به دې د اولاد څښتن کړي. پادشا په غمجنو سترګو کې د خوښۍ نښې راښکاره شوې او ملنګ ته یې کړه:
که داسې دې وکړه نو زه به دې په مال او دولت کې پټ کړم، چې له ملنګۍ خلاص شې. ملنګ په غصه له ځایه پورته شو او داسې کړه:
ورځه خپل سره او سپین زر دې دغه غریب او بیوزله رعیت ته ورکړه چې له بیوزلۍ خلاص شي.
د پادشاه په سترګو کې بیا د ناهیلۍ نښې راښکاره شوې، ملنګ ته یې له زاریو په ډک نظر وکتل او وې ویل: ملنګ بابا ته څه غواړې؟ ملنګ ځواب ورکړ: زه خبر شوی یم چې ته د نورو پادشاهانو په څیر ظالم نه یې او اولاد نه لرې، نو غواړم د الله پاک په مرسته ستا دغه هیلې ته د عمل جامه واغوندم.
پادشاه ملنګ ته کړه: ډیره ښه ده، زه به له تا مننديه یم. ملنګ وویل: زه به اوس ستا د میوې بڼ ته ولاړ شم. پادشاه سمدستي خپلو نوکرانو ته امر وکړ، ملنګ پریږدې چې بڼ ته ولاړ شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ملنګ په چټکئ په ټول بڼ کي وګرزيده، په پای کي د مني وني ته ورغي او پر خپله امسا يي د مني پر خاښونو ګوزار وکړ. له وني څلور داني مني ښکته وغوريدي او ملنګ راوړی پادشاه ته يي وکرړي چي دا دي له خپلو ميرمنو سره وخوره، ډير ژر به د اولاد څښتن شی. پر پادشاه دوه ښځي ګراني او يوه يي ناګرانه يا ناګڼلي وه. نو يي دغه مني له خپلو دوه و ښځو سره وخوړي او خپلي ناګڼلي ښځي ته يي ترينه ورنه کړي.
د پادشاه ناګڼلي ښځي چي له کړکۍ نه دا ټول حال څاره، کله چي د منو پوټکي پاتي شو نو له مينځي وغوښتل چي ورته يي راوړي او هغه يي وخوړل.
په پاي کي دري واړو ښځو يو کال وروسته زامن وزيږول، خو د ناګڼلي ښځي زوی د دواړو لاسونو کوچنۍ يا قيچي ګوتي نيماي نه وي او مور يي داسی وګڼل چي ګواکي دا به د منو د پوټکو خوراک له وجي وي.
وختونه تير شول او کرار کرار دغه هلکان زلميان شول، خو د پادشا دغه ناګڼلی ښځي زوي چي نيماي ګوتي يي نه وی، په نيم ګوتي مشهور شو.
ملنګ به دوه دري کاله وروسته د پادشاه خبر اخيسته، څو ګړۍ به ورسره کښيناست او بيا به پر خپله راغلي لار ولاړ. يوه ورځ چي بيا ملنګ د پادشاه خواته راغي نو د هغه حالت يي خراب وليده او پوه شو چي پادشاه پر دواړو سترګو ړوند شوی.
نو يي پادشاه ته وويل:
ستا دري واړه زامن اوس کولي شی د سترګو درملنه دي وکړي. بيا يي زياته کړه:
د دغه څلورو غرونو شاته يو لکي ځنګل دی، چي د بي شميره وحشی ځناورو سر بيره، يوه شيشکه، چي کرکڼي اوبۍ نوميږي په کي اوسيږي. دغه کرکڼی ابۍ د داسی مرغلرو څخه جوړه شوي اوږۍ لري، چي که پر سترګو يي ووهي، سترګي به دي رنا او روغي شی. هلته دي دري واړه زامن وليږه چي دغه اميل درته راوړي.
پادشاه په انديښني سره ملنګ ته وويل: دومره ستر ځنګل چي له وحشی ځناورو ډک دی، څنګه به ورته زامن ليږم.
ملنګ کړه.:
که دي ونه ليږل همداسی به ړوند ناست يي او ترينه روان شو.هماغه وو، چي پادشاه خپل دري واړه زامن سفر ته وليږل. خپل نازولي زامن يي له پوره پوځ سره رخصت کړل، خو نيم ګوتي يوازي پاتي شو. هغه يوه پيشکه لرله پر هغي سپور شو او د کرکڼي ابۍ په لور روان شو. ټول يو ځاي کرکڼي ابۍ ځاي ته ورسيدل. کله چي د شپي ټول ويده شول، نو نيمه شپه شيشکه پاڅيده او کر کر يئ پيل کړ،چي د دوي د خوراک له پآره، خپل غاښونه تيره کړي..
نيم ګوتي پري غږ وکړ:
کرکڼي ابۍ څه کر کر لري؟ هغي ځواب ورکړ :
نيم ګوتي زويه ته ولي خوب نه کوي!
نيم ګوتي په لوړ اواز وويل::
اي اي مور جاني! ډير درپسي خفه يم او زوريږم. بيا يي کړه، کرکڼي ابۍ! زما مور ډيره مهربانه ده، هغه د شګي په نيماي کي پاڅيږي او ماته پراتي او شيرچاي پخوي.
شيشکه هم له ناچاری پاڅيده چي دغه نيم ګوتي ويده شی، شير چاي او پراتي يي ورته پخي کړي. هغه هم وخوړلي او بيا پر کټ وغزيده. لږه شيبه وروسته بيا شيشکي کراري پيل شو. نيم ګوتي پري بيا غږ وکړ:
کرکڼي ابي! څه کر کر لري؟شيشکی کړه: نيم ګوتي زويه ولي خوب نه کوی؟
نيم ګوتي کړه: زما مور د شپي په نيماي کی له ځنګل څخه لرګي راوړي او پسه حلالوي، د ځنګله له لرګيو اور بلوي او ماته پري غوښته وريتوي. چي زه يي وخورم، بيا ويده کيداي شم.
کرکڼي ابۍ هم ځنګله ته ولاړه چي لرګي راوړي، په دغه شيبه کي نيم ګوتي په بيړه خپل ورونه له خوبه پاڅول. ورته يي کړه: ژر روانيږي چي د شيشکي خوراک نه شئ! د مرغلرو اوږۍ يي هم د شيشکي له صندوق څخه واخيسته او ورونو ته يي ورکړه. هغوي حيران شول، چي نيم ګوتي د اوږۍ په صندوق کي څنګه پيدا کړه او شيشکه څه شوه. خو نيم ګوتي خبرو ته پري نه ښودل او داسي ورته وويل:
تاسی سره خو پوره پوځ شته. ورځئ چي اوږۍ ژر پلار ته ورسوئ، تر څو يي سترګي جوړي شي. هغوي هم په بيړه روان شول. له رسيدلو سره سم يي پادشاه ته وويل:
دا دی پلار جانه! موږ ستا له پاره له کرکڼي ابۍ دغه د مرغلرو جوړه شوي اوږۍ راوړه. بيا يي اوږئ د پلار په لاسونو کی ورکړه.
پادشاه د خپل دربار ټول اراکين راټول کړل او د خپلو زامنو يي ښه هر کلي وکړ. بيا يي د مرغلرو اوږۍ د ټولو درباريانو تر مخ پر سترګو ووهله. خو د پادشاه سترګو کي د رڼا کوم بڅري ښکاره نه شول..
ټول په دی انتظار کي وو چي د پاشاه سترګي به روغي شی، خو د ناهيلۍ او خفګان سوري پر دربار خور شو.هوښيارو وزيرانو پادشاه ته وويل:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

د اوږۍ ریښتینې راوړونکي به دوي نه وي چې په لاسونو کې اغیز نه شته. په دې شیبه کې نیم ګوتې پر پیشکې سپور راورسیده. نیغ په نیغه د پادشاه خواته ورغې او اوږې یې په لاس کې واخیسته، کله چې د پادشاه پر سترګو ووهله، نو د پادشاه سترګې روښانه شوې او ناست خلک په خوشالۍ شول.
ټول وپوهیدل چې له شیشکې څخه د اوږې اخیستونکي همدا نیم ګوتې دی. هماغه وو، چې سمدستي پادشاه خپل د پادشاهي تاج د نیم ګوتې پر سر کیښود او ټول دربار یې هر کلي وکړ. پادشاه هم ډیر خوښ و او د نیمګوتې په زوی ولۍ یې ډیر ویاړ کوو، خپله ناګنلې ښځه یې له دغه دوه نورو ګنلې کړه.
کرکنې ابۍ چې کله کور ته راغله، هیڅوک نه وو. په بیړه صندوق ته ورغله هلته هم د مرغلرو جوړه شوې اوږۍ نه وه.دغه اوږۍ کې د کرکنې ابۍ ټول ځواک وو. پوهه شوه چې نیم ګوتې غولولې ده. هماغه وو، چې ځاې پر ځاې یې زړه ودرید او مړه شوه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ